مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند ۲۰۲۳/۰۸/۱۰

# په تياره کې ډيوه

## (په ښووڼځيو او پوهنتونونو کې د نجونو د زدکړو ستونزه)



ښـنـګه ورته وګـورمه، سترګـي زمـا لـمـر وهي
سپيني کيسي نشم کړی، جلاد مي رانه سر وهي

ولي مـو د نـجـونـو د تـعـلـيـم مـخـه نيولي ده؟
بـده ده چي ښځه بـاندي لاس پـردی ډاکټر وهي

دا خلک که نن د رڼاګانو لښکر جوړ نه کړي!
چا بـانـدي سبا تـه بيا د تورو شپـو لښکر وهي؟

(حنيف حيران)



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولـئ

دا دی دوه کلونه په پوره کېدو دي چې د افغانستان د د نجونو پرمخ د رڼا دروازې تړل شوي دي او ښوونځی یې داسې بند کړای شویدي چې خلاصېده یې اوس په یوه خیال باندې بدل شوی دي. د همدې تورې تیارې په اړوړدوړ کې، د یوه طالب چارواکي له خولې د ښوونځیو د پیل کېدو په باب څه اورېدل شوي دي.

د طالبانو د کورنیو چارو سرپرست وزیر سراج‌الدین حقاني یوې غونډې ته ویلي دي چې: « د نجونو زدکړو د اختلافي' ستونزې پر معقول حل کار روان دی.»

نور حال د بي‌بي‌سي په لاندې رپوټ کې:

«افغانستان کې د طالبانو حکومت د کورنیو چارو وزارت سرپرست سراج الدين حقاني ویلي د نجونو د تړلو ښوونځیو او پوهنتونو پرانیستل کېدو ته د یوې معقولې حل لارې پر موندلو کار روان دی.
طلوع نیوز وايي هغه دا خرګندوني سې‌شنبه د (جولای ۲۵مه) هرات ولایت کې له دیني عالمانو، قومي مخورو او د خصوصي سکتور له استازو سره یوې غونډې ته کړې دي.
ښاغلی حقاني د طالبانو د سترې محکمې د رییس مولوي عبدالحکیم حقاني په مشرۍ له یوه جګپوړي دولتي پلاوي سره هرات ته تللی دی...
طلوع نیوز د هرات د خصوصي سکتور د استازو په حواله لیکلي، چې د نجونو پر مخ د ښوونځیو او پوهنتونونو بند پاتې کېدل د پانګې د تېښتې لامل شوی او دا چې "ډېرې کورنۍ د خپلو اولادونو د زدکړو او تحصیل په موخه ګاونډیو هېوادونو ته کډه کېږي."
دې شبکې هرات کې دې غونډې ته د ښاغلي حقاني د وینا یوه برخه هم خپره کړې چې نوموړی پکې وايي "د دغو موضوعاتو لپاره پر یوه معقول حل کار روان دی."
نوموړی زیاتوي دوی له دې نه ویرېږي چې کله "یوه مساله اختلافي وګرځي، د دې لپاره چې دغه اختلاف لوی او پراخ نشي، هغې ته یو څه انتظار په کار وي...»

پخوا تر دې هم د افغانستان په هرات ولایت کې د نجونو د ښوونځیو د خلاصېدو ګونګوسې اورېدل شوی و، د نجونو د ښوونځیو د نه خلاصېدو د انتقادونو په اړودوړ کې یو تازه خبر داسې دی چې د افغانستان په هرات ولایت کې د نجونو دري لیسې پرانستل شوي دي، په همدې موضوع پورې اړوند تاند دا خبر داسې خپور کړ:

«طالبانو په هرات کې د نجونو ځينې لېسې پرانيستي دي
تاند (سې شنبه، د ثور۲۶مه) له هرات څخه ترلاسه شوي راپورونه وايي چې طالبانو په دغه ولایت کې د نجونو ځینې لېسې او متوسطې پرانيستې دي.
د هرات ولایت په پوهنې ریاست کې یوې سرچینې تاند ته وویل چې طالبانو اجازه ورکړې چې د نجونو یو شمېر لیسې په هرات ښار کې پرانیستل شي.
یوې بلې سرچینې وویل چې لږترلږه د نجونو له درو لیسو خبر دی چې تازه پرانیستل شوي دي.
د طالبانو د پوهنې وزارت او په هرات کې د پوهنې ریاست تراوسه پورې د دغو لیسو د پرانیستل کېدو په اړه رسماً اعلان نه دی کړی.
د ۲۰۲۱ د اګست له پنځلسمې وروسته چې طالبانو کابل ونیوه، د مزارشریف او د شمال له څو نورو ولایتونو پرته یې د پلازمېنې کابل په شمول د ټولو ولایتونو د نجونو متوسطې او لیسې بندې کړې چې لا هم بندې دي.
اوس هم د شمال لږترلږه په پنځو ولایتونو د نجونو لیسې پرانیستې دي.
د هرات په پوهنې ریاست کې یوې سرچینې، چې د امنیتي ستونزو له کبله یې نه غوښتل نوم یې واخیستل شي، تاند ته وویل، طالب چاروکي وايي؛ وروسته له دې چې د نجونو او هلکانو ټولګي یې سره بېل کړل، د نجونو لیسې یې پرانیستي خو حقیقت دا دی چې په هیڅ لیسه کې نجونو او هلکانو یوځای درس نه وایه.
په همدې حال کې راپورونه وايي چې په هرات کې یې ځینو نارینه ښوونکو ته هم اجازه ورکړې چې د نجونو په لیسو کې تدریس وکړي.»

که دا خبر رینښتیا وي او نورو ولایتونو ته وغځېږي، نو ډېره لویه د خوشالۍ خبره به وي، داسې چې لکه په یوه تیاره کوټه کې چې یوه ډیوه بله کړای شي. لکه سیل وړی چې د خلاصون لپاره هرڅه ته لاس اچوي، د تعلیم پلویان هم چې کله د نجونو د تعلیم په برخه کې یوه وړوکې مثبته خبره واوري، ورته خوشحاله وي.

د پاسنۍ ښه خبر په څنګ کې د نجونو د تعلیم د لاځنډ په باب هم خبرونه خپرېږي. هغو کسانو چې د نجونو ښوونځي یې تړلي دي، دوی نه پوهېږي چې له زدکړو پاتې نجونې او کورنۍ دا نیمګړتیا څومره زوروي، دا یې یوه بېلګه ده:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

«زوى مې نوید جان د زده کړې دولس کلنه دوره په بریالیتوب سره پای ته و رسوله؛ لا دې و غوړېږي!

**خـور چې د وررور په غـاړه ګـل د دولســم د فـراغـت ولـیدۀ**
**سیالي یې وکړه خپلي غاړې ته یې اوښکو نـه امېل جوړکړ»**

په نړیوالو کړیو کې دا ګونګوسی پیل شوی دی چې «د افغانستان د پوهنې نظام له سقوط سره مخ دی». د نجونو او ښځو پر تعلیم باندې د بندیز پر پالیسی باندې د طالبانو ټینګار کېدای شي د دې سبب شي چې د معارف په برخه کې نړیوال مرستندویان خپلې مرستې ودروي، که دا کار وشو، دا به د افغانستان د خلکو لپاره یوه بله لویه غمیزه وي.
نور حال د تاند په دې لنډکې راپور کې:

«تاند: ( پنجشنبه، د سرطان دویمه) په ملګرو ملتونو کې د متحده عربي اماراتو استازي د افغانستان په اړه د دغه سازمان د امنیت شورا په ځانګړې غونډه کې د افغان تعلیمي نظام د سقوط خبرداری ورکړ.
نوموړي، چې د امنیت شورا دوره یې مشري کوي وویل، هېواد یې په دې باور دی، چې افغان ښځې او نجونې باید په ټولنه کې داسې رول ولري، چې په هره کچه او له نړیوالو معیارونو سره سمې زده کړې پیل کړي. هغې ټینګار وکړ چې دا یوه "د نه مذاکرې وړ" مسله ده.
دغې ډیپلوماتې همدا راز زیاته کړه، داسې اندېښنې شته چې د طالبانو د وروستیو پرېکړو له امله به د افغانستان د پوهنې له سکتور سره مالي تمویل کوونکې مرستې بندې کړي او بالاخره به د افغانستان د پوهنې د نظام د تخریب لامل شي.
نوموړې وایي: "دا به د ټول هېواد لپاره یوه تراژیدي وي."
د متحده عربي اماراتو استازې زیاته کړه، چې طالبان د مرستو په برخه کې د ښځو پر کار د محدودیتونو په لګولو سره نه یوازې دا چې حیاتي مرستو ته لاس رسی محدودوي، بلکې مرستې ترلاسه کوونکې له جنسي ځورونې او ځورونې سره مخ کوي.
د طالبانو له بیا واکمنیدو سره، د افغانستان د تعلیمي او تحصیلي نظام په اړه ګڼ داسې خبرداري ورکړل شوي.
طالبانو نه یوازې د میلیونونو نجونو پر مخ له شپږم ټولګي څخه پورته د ښوونځیو او تعلیمي مرکزونو دروازې تړلې؛ بلکې د هلکانو پر زده کړو یې هم سخت قیودات وضع کړي، د دوی ناخوښ استادان او کارکوونکي یې له تعلیمي او تحصیلي نظام څخه ویستي او سخت قیودات یې پرې حاکم کړي.
په وروستیو دوو کلونو کې دطالبانو له لاسه، د زرګونه پیاوړو تحصیلي کادرونو د جلاوطنۍ خبرونه هم ورکړل شوي.
طالبان، بیا برعکس د نورو برخو په شان په تعلیمي برخه کې هم د لاسته راوړنو ادعا لري او شوي نیوکې د دوی خلاف تبلیغات بولي.»

په تعلیمي او سیاسي پالیسی باندې یوه شخصیت ښاغلی عبدالوحید وحید د خپل یوه سیاسي تحلیل په ترڅ کې د نورو تودو او اړینو مسألو د تحلیل ترڅنګ، د نجونو د ښوونځیو د تړلو په باب داسې لیکلي دي:

«... ډېر څه شته چې د مصلحتونو او نورو لاملونو له امله یې نه لیکم او غواړم له وخت او شرائطو سره تعامل وکړم خو دَ انجونو په زده کړو باندې ناروا بندیز د ولس په ستوني کې پښه ایښودل او په هیڅ ډول راته د منلو وړ نه دي. که یوازې له ښځو څخه د زده کړو ثابت شوی حق سلبول د خپلو او د حکامو د مسئولیتونو او مکلفیتونو په ترازو کې وڅیرو، نو دغه مظلوم او محکوم قشر ته به د ټولو حقونو د ورکولو په خبره کې هیڅ وزن او ارزښت پیدا نکړای شو او یوازې همدغه حق تلفي به د اوسني حکومت د عدالت دعوه په جدیت سره له پوښتنو لاندې راولي»

که د یوې نجلې ښوونځی وتړل شي او بله پوهنتون ته پرېنښودل شي او په پای کې دوی له تعلیم محرومې کړای شي نو موږ به نه کومه نرسه ولرو او نه هم کومه ډاکتره. د ښوونځیو تړونکي به ښايي یوازې په دې بریالي شوي وي چې د نجونو ځېرې د خلکو له لیدلو پټې کړي، خو کله چې همدا په پردو کې پټې شوې نجونې او مېرمنې ناروغې شي، کېدای شي اړتیا پیښه شي چې د هغوی ټول بدن د فزیکي معاینې لپاره لوڅ کړای شي؛ اوس یې وسنجوئ چې دا ناروغه نجلۍ او ناروغه مېرمن چا بیستره کړه؟

له بدشامته د همدې کرښو د لیکلو په ورستیو شیبو کې خبر راغی چې د ځینو طالب چارواکو د نوې پرېکړې له مخې د نجونو د زدکړو دایره نوره هم تنګېږي. پر دې ستونزه باندې به د همدې بحث په بله برخه کې خبرې وشي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ